
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۰مه | ۵۷۰یمه گڼه

# فساد او پر حکومت نیوکې؛

## ولسمشر ته نږدې درې چارواکي د فساد په تور ځارنوالۍ ته معرفي شول





۳

حکومت؛ د پاکستان پر وړاندې که تر څنګه؟!
۲ مخ

افغانستان؛ بې اجنډا گوندونه او بې گوندونو ولسواکي
۲ مخ


بریالی مدیر او دېرش کارونه
۳ مخ

## پاکستاني رسنۍ: د ډیورنډ فرضي کرښې اړوند د افغان حکومت او طالبانو یو شان چوپتیا پوښتنې راولاړې کړې

له پاکستان څخه د اردو ژبې خپرېدونکې جنگ ورځپاڼې په دې وروستیو کې په یوه تحلیل کې ویلي چې له تېرو شپږو کلونو را په دېخوا د امریکا په مالي ملاتړ پر ډیورنډ فرضي کرښې د اغزن تار د غځولو پروژه د بشپړېدو په حال کې ده.

ورځپاڼه وايي، د دغې پروژې په تکمیلېدو سره دا ثابتیږي چې افغانان هم په اوسني حالت راضي او د ډیورنډ مسئله یوه خوا بولي. جنگ ورځپاڼه دغه راز د پوښتنې په توگه لیکي چې په دې تړاو د افغان حکومت او طالبانو یو شان چوپتیا د پوښتنې وړ ده. سرچینه وروسته خپله پوښتنه ځوابوي چې افغان حکومت او طالبان چوپ دي او کوم جدي او ښکاره دریځ نه لري. ورځپاڼه وايي، په افغان حکومت کې د شمال ټلوالې پخواني رهبران او چارواکي یو مخ په دې نظر دي چې ډیورنډ گټل یا پرې خبرې کول د دوی د علاقې وړ مسئله نه ده، دغه راز طالبان چې له تېرو څو کلونو را په دېخوا په اکثریت مهمو مسایلو نظر څرگندوي او د افغانستان په راتلونکې کې مهم او کلیدي دي، دوی هم د افغان حکومت په څېر پر پوله د اغزن تار غځولو او تاسیساتو جوړولو باندې چوپ او پاکستان ته یې کوم مزاحمت نه دی کړی. ورځپاڼه د خپل تحلیل په پای کې لیکي چې په نږدې راتلونکې کې پر پوله د تاسیساتو جوړولو او اغزن تار غځولو چارې بشپړېږي، چې دا به د پاکستان ساتلو لپاره د دغه هېواد په تاریخ کې د یوې مهمې پېښې په توگه ثبت شي.

## افغان چارواکي دې ژر تر ژره نوی حکومت جوړ او بین الافغاني مذاکرات پیل کړي




۲ مخ



۴ مخ

## بغلان

بغلان د هېواد یو تر ټولو مهم صنعتي ولایت دی، چې د غوري سیمنټو، افغان نساجۍ، بورې او ډېرو سکارو فابریکې په کې شته. له بده مرغه د حکومت د نه پاملرنې له امله یادې فابریکې د ودرېدو په حال کې دي.



## کرنې ریاست: په بغلان کې د کبانو د روزنې ۲۰ لوی فارمونه جوړیږي




د بغلان د کرنې او مالدارۍ ریاست د بنوالۍ ملي پروژه په دغه ولایت کې د کبانو د روزنې ۲۰ بېلابېل لوی فارمونه جوړوي. د بغلان د کرنې او اوبو لگولو ریاست د بنوالۍ د ملي پروژې مسوول عبدالغفار ظاهري له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې د دغو فارمونو د جوړولو موخه په بازار کې د کبانو غوښې ته د خلکو د اړتیاوو پوره کول او کار موندنه ده.
نوموړي دغه راز زیاته کړې چې دغه فارمونه به د بغلان په ولسوالۍ کې چې زیاتې او پاکې اوبه لري، جوړ شي.
دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال په بغلان کې د کبانو د روزنې ۳۲ فارمونه فعالیت کوي چې د ظاهري په خبره، د بازار د اړتیا لپاره کافي نه دي.
کرنې وزارت په هېواد کې د کرنیزو پروژو ترڅنگ د کبانو د روزنې د فارمونو د جوړولو لړۍ هم پیل کړې چې گڼو کسانو ته پکې د کار زمینه برابره شوې ده.

## مشرانو جرگې د پارلماني چارو مخکنی وزیر فاروق وردگ د غوره مدیریت او اغېزناکې رهبرۍ له امله وستایلو



مشرانو جرگې په ځانگړې عمومي ناسته کې په پارلماني چارو کې د دولت مخکنی وزیر غلام فاروق وردگ د ښو کړنو، غوره مدیریت او اغېزناکې رهبرۍ له امله د مډال او ستاینلیک په ورکولو وستایه.
تېره ورځ په دې اړه په مشرانو جرگه کې ځانگړې مراسم نیول شوي وو. د مشرانو جرگې رییس فضل هادي مسلمیار فاروق وردگ د هېواد په کچه یو ملي او اغېزناک سیاسي شخصیت او د معاصر نظام له بنسټگرو یاد کړ.
مسلمیار د افغانستان اسلامي جمهوریت د بېلابېلو بنسټونو رغولو او د حکومتي چارو د پرمخ وړلو لپاره د گڼو ځوانانو روزلو په برخه کې د ښاغلي وردگ رول مهم وباله، زیاته یې کړه چې فاروق وردگ د هېواد یو مشر دی او مشرانو جرگې لازمه وبلله چې د ده لاسته راوړنې او کړنې وستایي.
بلخوا په پارلماني چارو کې د دولت وزیر غلام فاروق وردگ د سنا مجلس له اداري پلاوي، غړو او د دارالانشاء له کارکوونکو د منني ترڅنگ هېواد او خلکو ته خدمت کول د خپل ځان او ولس عزت وباله.
نوموړي د خپلو خبرو پرمهال ټینگار وکړ چې د هېواد لوړې گټې او د ملي موخو تحقق یې لومړیتوب دی، له همدې کبله یې د دندې پر مهال هېڅکله هم د ملي شورا د دواړو خونو ترمنځ توپیري چلند نه دی کړی.
نوموړي همداراز ژمنه وکړه چې د ژوند تر پایه به همدلته په هېواد کې پاتې کېږي او د خپل ولس او خلکو خدمت به کوي.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## درېغ

## حکومت؛ د پاکستان پر وړاندې که تر څنګه؟!

افغـان حکومت په دې وروسـتیو کې د ګمبیري پـر دښـته د هوایـي ډګـر د جوړولـو پـروژه پرانیسـته. د افغـان حکومـت ځینـې پخواني چارواکـي وایـي چـې دغـه ځمکـه د زراعـت لپـاره پـه پـام کـې نیـول شـوې ده، بایـد د اوبـو یـو بنـد جوړ شي او دغـه بند بـه له کونړ سـیند د ګمبیـري دښـته خړوبـه کـړي چـې زرګونـه هکتـاره ځمکـه به د کرکیلـې وګرځي. پـرون په همـدې تـړاو پـه جـلال اباد او بغـلان ولایتونـو کـې لسـګونو کسـانو د حکومـت پـر وړانـدې اعـتراض کـړی و او لـه دوی یـې غوښـتي وو چـې ژر تـر ژره دې لـه خبلـې دغـه پرېکـړې پـه شـا شي. د دوی پـه خـبره، د ګمبـیري دښـته د سردار محمـد داوود خـان د ماسټر پـلان لـه مخـې زراعتـي ځمکـه وه او د دې ځمکـې لپاره د کونـړ پر سـیند باید بند جوړ شي، چې د دې هـدف د پـوره کولـو پـه موخـه جاپـاني الاصله افغـان ناکامـورا د پاکسـتان لخوا ووژل شـو، څو دلتـه بنـد جـوړ نـه شي او د کونـړ د سـیند اوبـه پاکسـتان تـه روانـې وي.

اوس د حیرانتیـا خـبره دا ده، چـې لـه دې ځمکـې د دومـره مهـم کار د اخیسـتو شـونتیا شـته ده، نـو بیـا ولې هوایـي ډګر وربانـدې جوړ شي؟ ننګرهـار هوایـي ډګـر لري او پـر دغه ډګر دومـره بیروبـار نـه دی چـې بـل هوایـي ډګـر ته دې اړتیـا وي. حکومـت ولـې پـه لـوی لاس هغه پـروژې ناکامـوي یـا مداخلـه پکـې کـوي چـې د افغانسـتان لپـاره حیـاتي ارزښـت لـري. ولس پـه یـوه خولـه وایـي چـې دوی هوایـي ډګـر نـه غـواړي، پـر ځـای یـې د اوبو بنـد غـواړي او دغه بنـد بایـد د ګمبیـري دښـته خړوبـه کـړي، خـو حکومـت د هوایـي ډګـر پـر پـروژه ولاړ دی.

بلـه خـبره دا چـې حکومـت خپلـه کومـه پرانیسـتې پـروژه بشـپړه کـړې ده؟ پـه ننګرهـار کـې د سـتر روغتیایي کمپلکـس د جوړولو پروژه څـه شـوه؟ د سـتر اسـلامي پوهنتـون د جوړولو پـروژه څـه شـوه؟ د بندونـو د جوړولـو او تورخم، بیـا جـلال اباد، بیـا کابـل تـه د رېـل پټلـۍ د جوړولـو طرحې څه شـوې؟ حکومت دې نور په ورتـه کړنو د ولس سـترګو ته خاورې نه شـیندي او ولـس تـه هـم پـه کار ده چـې خپلـې حیـاتي پـروژې دې د څـو ورځـو نمایشي پـروژو لپاره نه قربـاني کوي.

بلخوا حکومت په دې وروسـتیو کې د پاکسـتان پـر وړانـدې خـورا نـرم درېغ غـوره کـړی دی. په ننګرهـار کـې وروسـتۍ پېښـې د خـورا حیرانتیا وړ دي. یو ولسـوال ځکه له دندې ګوښـه کېږي چـې هغـه د پاکسـتاني اغـزن سـیم د غځولو پر وړاندې مقاومت کړی و. پاکسـتاني عسـکر ورځ تـر بلـې لـه فـرضي کرښـې را اوړي، پاکسـتان پـر فـرضي کرښـه ډول ډول اقدامـات کـوي، د سـولې پـه برخـه کـې دوه مخی چلند کـوي، په سـوداګریزه برخـه کـې یـې چې څـه ډول اصول زړه وغـواړي، وضـع کـوي یـې، خـو د حکومـت کمـزوري سیاسـت نـه پاکسـتان منزوي کـړ، نه یـې نړیـوال پـه دې بـاوري کـړل چې پاکسـتان د افغانسـتان د مـلي ګټـو ضد اقدامـات کوي.

اوس حیرانتیـا دا ده، چـې افغـان حکومـت او ځینـې چارواکـي د پاکسـتان پر ضد دي که تر څنـګ؟ دا بـه وخـت ثابتـه کړي چې رښـتیا هم سیاسـت روان دی، کـه هـر څه د افغانسـتان په زیان دي.

لومړۍ برخه:

# افغانستان؛

## بې اجنډا ګوندونه او بې ګوندونو ولسواکي

لیکنه: حفیظ همیم

### سریزه

پـه دې وروسـتیو کـې جمعیـت اسـلامي ګونـد پـه دوو برخـو ووېشـل شـو. د دې پخـواني ګونـد وېـش یـو ځـل بیـا پـه افغانسـتان کـې د ګوندونـو د طبعیـت، جوړښـت، وضعیـت او راتلونکـي پـه اړه ځینـې پوښـتنې راپورتـه کـړې. تـر دې وړانـدې حـزب اسـلامي، حـزب وحـدت اسـلامي، حرکت اسـلامي او نـور ګوندونه هـم پـر کوچنیـو ګوندونـو وېشـل شـوي دي. لـه دې بېلګـو څخه ښـکاري چې په افغانسـتان کـې ګوندونه د خپـل طبیعي سیر مخالـف لـوري تـه روان دي، یانې د پیـاوړي کېـدو، غوړېـدو او ملي کېـدو پـر ځـای پـر کوچنیـو هسـتو وېشـل کېږي. دا کار د دې پـر ځـای چـې دوی یـا د ګونـد پـه توګـه واک تـه ورسـوي او یا یـې د اپوزیشـن پـه توګه له حکومـت د باندې مطـرح کړي، دوی پر نـورو سرخوږیو اړوي او هغـه انـرژي چې د سـمون او اصلاحاتو پـه راوسـتلو یـې بایـد ولګـوي، د یـو بل په تخریـب او کمولـو یـې لګـوي.

پـه دې مقالـه کـې پـر دې بحـث شـوی چـې څنګـه کېـدای شي د ګوندونـو وضعیـت ښـه شي؟ پـر ګوندونـو د خلکـو بـاور زیـات شي او د ګـڼ ګوندیز سیسـتم پـه دننـه کې یا د پوزېشـن او یا اپوزېشـن پـه توګـه سیاسـت وکـړي.

### په افغانستان کې احزاب ولې وده نه کوي؟

دا مهـال د افغانسـتان لـه عدلیـې وزارت سره ۷۱ ګوندونـه پـه رسـمي ډول ثبـت دي. پـه دې ډلـه کـې شـاوخوا لـس یـې هغـه ګوندونه دي چې د پخـواني شـوروي اتحـاد د یرغـل پر مهال د جهـادي ډلو په توګـه رامنځتـه شـوي او بیـا د طالبانـو له ماتـې وروسـته د سیاسـي احزابـو پـه توګه پـه عدلیـه وزارت کـې ثبت شـوي دي.

د دې ګوندونـو لویـه برخـه ډیموکراتیـک ګونـدي پروسـیجرونه نـه لـري. د اکـثره ګوندونـو مـشران مـادام العمـر د ګونـد مـشران وي او بیـا د دوی لـه مړینـې یـا ګوښـه کېـدو وروسـته واک د هغـوی زامنو تـه رسـېږي چـې جمعیـت اسـلامي، جبهه نجـات مـلي، حزب محـاذ مـلي او جنبش اسـلامي افغانسـتان یـې بېلګـې دي.

د جمعیـت د پخـواني مـشر لـه مړینـې وروسـته د هغـه زوی صـلاح الدین رباني، د جبهـه نجـات مـلي افغانسـتان د مـشر صبغـت اللـه مجـددي لـه مړینې وروسـته د هغـه زوی ذبیـح الله مجـددي، د محاذ مـلي د مـشر پـیر سـید احمـد ګیـلاني لـه مړینـې وروسـته د هغـه زوی حامـد ګیـلاني او د جنبـش اسـلامي د مـشر لـه ګوښـه کېـدو وروسـته د ګونـد چـارې د هغـه زوی باتـور دوسـتم پرمـخ بیایـي.

پـه سیاسي ګوندونـو کـې د پرمختـګ اصلـي معیـار وړتیـاوې وي چـې د داخلي میکانیزمونـو پـه مرسـته رابرسـېره کېږي، خو د افغانسـتان په سـیاسي ګوندونو کې دغـه ډول میکانیزمونه یا نشـته او که وي، نـو ډېـر کار ورڅخه نه اخیسـتل کېږي. د بېلګـې پـه ډول، هـر ګونـد بایـد پـه خپل تشـکیل کې د شـخړو د هـواري میکانیزم ولـري چـې شـخړې بایـد تـر ګونـد پـورې محـدودې پاتـې او دننـه هـوارې شي. د جمعیـت وروسـتي انشـعاب وښـودله چې پـه ګونـد کـې دننـه د دغـه ډول شـخړو د هـواري کـوم ځانګـړی میکانیـزم نشـته او کـه وي ګټـه ورڅخـه نـه اخیسـتل کېږي.

تـر دې مهمـه دا ده چـې پـه ګونـد کـې دننـه بایـد د ولسـواکۍ فضـا حاکمـه او پرېکـړې هـم د ولسـواکۍ د اصولـو پـر بنسـټ وي. د ګونـد د مشرتابـه لـه لـوري حسـاب ورکـول، د ګونـد لـه غـړو سره د سلامشـورې د پروسـیجرونو موجودیـت او پـه شـفاف ډول د کاندیدانـو غـوره کېـدل پـه ګونـد کې دننـه د ولسـواکۍ د رامنځتـه کولـو اصلـي ټکـي دي. پـر دې سربېـره، د یـوه سیاسي ګونـد داخلـي کارونـه او عملیـات پـه یـو ډول نـه یو ډول لـه ځینـو حقوقـي اصولـو(د ګونـد تګلاره او کړنـلاره) سره تـړلي و اوسي، خو تر دې ډېـر پکـې د ګونـد داخلـي اصـول مهمـه ونـډه لـري. د سیاسي احزابـو داخلـي کارونـه پـر دې اغېـزه لـري چـې اړتیاوې، منافـع او ټولنیزې غوښـتنې د پارلمان له لـوري څنګـه ځـواب شـوې دي. د ګونـد دننـه د کارونـو لپـاره حقوقـي قاعـدې او پـه اصولـو کـې ښـایي هغـه اصـول هـم شـامل وي چـې د ګونـد دننـه ولسـواکۍ لپـاره اړیـن وي، لکـه د ګونـد د مشرتابـه ټوکیـو لپـاره یـا پـه مشرتابـه کـې د ښـځو د اسـتازولۍ لپـاره د داخلـي ټاکنو اصل. کـه د مشرتابـه غـوراوی او یـا پـه مشرتابـه کـې د ښـځو اسـتازولي د دوو فکټورونـو پـه توګـه پـه پـام کـې ونیـول شي او بیـا د افغانسـتان پـر سیاسي ګوندونـو یـو نظر واچـول شي، نـو پـه ګوندونـو کـې دننـه د ولسـواکۍ وضعیـت بـه ډېر پـه اسـانه درته معلـوم شي چـې څنګـه دی.

پـه افغانسـتان کـې د ثبـت شـویو ۷۱ ګوندونـو پـه ډلـه کې یـوازې د یـوه ګوند، حـزب مـوج تحـول افغانسـتان، مـشره ښـځه ده. لـه دې څخـه ښـکارېږي چـې پـه ګوندونـو کـې دننـه د ګوند پـه مشرتابه کـې د ښـځو د حضـور سـلنه څومـره ده.

ګوندونـه بایـد تـر بـل هـر سیاسي او ټولنیـز جوړښـت پـر ډیموکراتیکـو اصولـو ولاړ او د ډیموکراتیکـو میکانیزمونـو لرونکـي و اوسي. د بېلګـې پـه ډول، د مشرتابـه ټاکنـه، ګونـدي ټاکنـې، مـالي او نـور میکانیزمونـه یـې ټـول پـر داسـې اصولـو ولاړ وي چـې هـم د افـرادو دوران تـه لاره هـواره کـړي او هـم پـه ګونـد کـې دننـه ولسـواکي تنظیـم کـړي. خـو پـه افغانسـتان کـې د ګوندونـو د مشرتابـه انتخـاب داسـې یـوه مسـئله ده چـې ډېـر لـږ ګوندونـه یـې پـه هغـو لارو ټاکـي چې د ګونـد دننـه د ولسـواکۍ غوښـتنه ده.

### ګوندي ایډیالوژي

لـه عدلیـې وزارت سره د ثبـت شـویو یـو اویـا ګوندونـو لـه ډلـې څخـه یـې اکـثره ګوندونـه قومـي او مذهبـي ګوندونـه دي چـې ځینـې یـې تونـدلاري او ځینـې نـور یـې منځـلاري دي. پـه دې ډلـه کـې اکـثره هغـه تنظیمونـه شـامل دي چـې د پخـواني شـوروي اتحـاد د یرغل پـر مهال پـه جلاوطنـۍ کـې جـوړ شـوي او بیـا د طالبانـو لـه ماتـې وروسـته پـه څـو برخـو وېشـل شـوي او بیرتـه لـه عدلیـې وزارت سره ثبـت شـوي دي.

یـوه برخـه ګوندونـه د پخـواني خلـق او پرچـم ګوندونـو د پخوانیو غـړو دي چې لا هـم پر سوشـلیزم باور لري او د سوشـلیزم او سـویټیزم پـر اډانـه ولاړ دي.

لـږ ګوندونـه داسـې دي چـې پـه لیـبرل ډیموکراسـۍ او سـکیولریزم بـاور لري. په دې منـځ کـې تـر ټولـو ډېـر رونـق لرونکي ګوندونه اسـلامي/مذهبي-قومي ګوندونه دي چې له دې ادرسـه له ولسـواکۍ سره هـم کلـه کلـه ټکـر کـوي او له دې ادرسـه له حکومت څخه امتیـازات هـم اخلي.

دغـه ګوندونـه پـه ټاکنـو کـې پـر رایـه هـم جـدي اغېـزه لـري. د بېلګـې پـه ډول، د ۲۰۱۹ کال پـه ټاکنـو کـې اکـثره اسـلامي/مذهبي-قومي ګوندونـو د ډاکټر عبداللـه ملاتـړ کـړی و او د ډاکتر عبدالله رایـې پـه واضح ډول پـه هغـو سیمو کې زیاتـې وې چـې دغـو ګوندونو پکې ریښـه لرلـه. لیـبرل او سـکیولر ګوندونه تر اوسـه پـورې د معادلـې برخـه نـه دي ګرځېدلي او حکومـت هـم پـرې ډېـر حسـاب نـه کـوي. د دغـو ګوندونـو لـه غـړو سره هـم د حکومـت چلنـد انفـرادي دی او هغـوی چـې پـه دولـت کـې ورتـه دنـدې ورکـول کېږي د ګونـد لـه ادرسـه نـه؛ بلکـې پـه انفـرادي ډول دولـت تـه راوسـتل کېږي. ښـه بېلګـه یـې د حـق و عدالـت د ګونـد غـړی حنیـف اتمـر دی چـې د بهرنیـو چـارو وزارت تـه د یـوه فـرد پـه توګـه راوسـتل شـوی دی.

### د افغان ولسواکۍ په وده کې د سیاسي ګوندونو ونډه

سـیاسي ګوندونـو تـه د ولسـواکۍ د مـخ شرط پـه سـترګه کتـل کېږي. د سیاسـتپوهنې لـه نظـره، هېڅ ولسـواکي د سـیاسي ګوندونـو لـه موجودیـت پرتـه غوړېـدای نـه شي. پـه بله وینا، ولسـواکي یـوازې هغـه وخـت خپلـه وظیفـه تـر سره کـولای شي چـې پـه ټولنـه کـې سـیاسي ګوندونـه موجـود وي او کـه ګوندونـه نـه وي، لـه ولسـواکي څخـه مطلوبـې پایلـې نـه شي تـر لاسـه کېـدای.

د بېلګـې پـه ډول، جیمز برایـس (James Bryce۱۸۳۸-۱۹۲۲) پـه دې اړه ډېـر واضـح نظـر لـري او وایـي: «سـیاسي ګوندونـه هېڅکلـه لـه نظـره غورځـول کېـدای نـه شي او د ولسـواکي لپـاره یـې شـتون حتمـي دی. هېـڅ هېـواد لـه سـیاسي ډلـو پرتـه خپلـواک نـه دی او هېڅـوک یـې نـه شي ښـودلای چـې حکومتونـه د سـیاسي ګوندونـو لـه موجودیـت پرتـه څنګـه کار کـوي.» د مشـهور ټولنپـوه ماکـس ویبر پـه خـبره، سـیاسي ګوندونـه د ولسـواکۍ زامن دي، یـو ټولنیـز امتیاز او د خلکـو د راجلبولو او منظمولـو ضرورتونـه دي.

ګوندونـه کـه لـه یـوې خـوا د ماکـس ویبر پـه خـبره د خلکـو د راجلبولـو او منظمولو ضرورتونـه دي، لـه بلـې خـوا د نظـام پـه انـډول برابرولـو او تـداوم کـې ټاکونکـی رول لـري.

خـو د افغانسـتان پـه ټولنـه کـې ګوندونه پـه کـوم وضعیـت کـې دي؟ لـه عدلیـې وزارت سره د ثبـت شـاوخوا اویـا ګوندونـو پـه ډلـه کـې یـوازې د ګوتـو پـه شـمار څو ګوندونـه دي چـې پـه سـیاسي مسـایلو کـې لـږ و ډېر ښـکېل دي؛ خو د منظمو او فعالو جوړښـتونو او سیاسـتونو د نشـتوالي لـه کبلـه پـر حکومـت هغومـره فشـار نـه شي راوړلـی چـې د پالیسـیو د تغییر لامل شي. البتـه پـه ځینـو مسـایلو کې ګوندونه غبرګونونه ښـیي؛ خو داسـې لـږې بېلګې شـته چـې حکومـت د هغـوی غبرګـون ته پـه جدي سـترګه کتـلي وي.

پـه افغانسـتان کـې د ګوندونـو سـتونزه دا ده چـې خپـل ګونـدي مسـوولیتونه هغسـې نـه شي تر لاسـه کولای چې باید کـړي یـې وای. د بېلګـې پـه ډول، ګوندونه بایـد انتخابـاتي رقابـت وکـړي. هـر ګونـد خپـل نومانـدان معـرفي او د هغـوی لپاره رایـې راټولـې او کامیـاب یـې کـړي. دغـه راز ګوندونـه بایـد عمومـي سیاسـتونه تدویـن او خپلـو غـړو او عامـو خلکـو سره شریـک کـړي. د ګوندونو یوه بلـه دنده دا ده چـې د خلکـو سیاسي پوهـه او شـعور لـوړ کـړي. د حکومـت او دولتـي چارواکو نقـدول، د نظـام چـارې څـارل د ګوندونـو بلـه دنـده ده.

بلـه دا چـې ګوندونـه پـه ټاکنـو کې چې د ولسـواکۍ یـو مهم اصـل دی، ارزښـتناکه ونـډه لـري. د بېلګـې پـه ډول، خلـک سیاسي مشـارکت او پـه ټاکنـو کـې رایـې اچولـو تـه هڅـوي. پـه همـدې ډول د ګـډون کوونکـو شـمېر ډېرېـږي او د رایـو لـه پایلو راوتلـی حکومـت مشروعیت پیدا کـوي.

خـو د افغانسـتان مسـئله پـه دې ټولـو برخـو کـې ببلـه ده. پـه افغانسـتان کـې حتـی د ګوندونـو غـړي د ټاکنـو پـر مهال لـه خپل نـوم سره خپلـواک نومانـد لیکي او ډېـر لـږ خلـک د ګونـد لـه ادرس څخـه پارلمـاني ټاکنـو تـه درېږي. د خلکـو د هڅولـو پـه برخـه کـې یې هـم ونـډه پیکه ده، ځکـه خـو لـه انتخابـاتي بهیرونـو سره د خلکـو لېوالتیـا او پـه ټاکنـو کې د خلکو ګـډون کـم وي. زمـوږ ګوندونـه یـوازې د ټاکنـو پـه ورځـو کـې د امتیازطلبیـو پـه خاطـر را څرګندیـږي، نـور وخـت غیر فعـال وي. سـتونزه دا ده چـې ډېـر یـې مـلي نـه دي، د کورنیـو، قـوم او سمت په نـوم سیاسـت کـوي او لـه همـدې کبلـه محـدود پاتـې دي.

پـه نـوره نـړۍ کـې ګوندونـه د سیاسي ثبـات سـبب ګرځـي، پـه امنیت، د فسـاد پـه مخنیـوي او سیاسي ثبـات کـې رول لـري، خـو دلتـه لـه هرځـل انتخاباتـو وروسـته جنجـال لـه سـیاسي ګوندونـو، یـا د دوی لـه نوماندانـو چـې کلـه کلـه په مسـتقل او کلـه غیـر مسـتقل ډول نوماند شـوي وي، را پورتـه کیـږي. همـدوی د سـیاسي بـې ثباتـۍ باعـث ګرځـي، د ماتـې منلـو فرهنـګ نشـته او پـه تېره لنډه مـاضي کـې هرځـل سـیاسي پروسـې د اختلافاتـو قربـاني شـوې دي چـې پـه اوږدمهـال کـې یـې هـم د افغانسـتان د نظـام مشروعیـت او هـم پـر ولسـواکۍ بـاور تـه زیـان رسـولی دی. پـه ۲۰۱۴ او بیـا ۲۰۱۹ کال کـې قدرت د نـورو عواملو ترڅنـګ د سـیاسي ډلو ټېلـو د جنجال د مخنیـوي لـه کبلـه ووېشـل شـو.

دغـه راز دلتـه د ګوندونـو یـوه لویـه سـتونزه دا ده چـې د مسـایلو پـه اړه واضـح دریځونـه نـه لـري. حتـی کلـه کله د حکومـت د هغـو پالیسـو ملاتـړ هـم کـوي چـې د ټولنـې اکثریـت وګـړي یـې غیرعادلانـه بـولي. د خلکـو د سـیاسي شـعور او پوهـې د لوړولو په مسـئله کې د افغانسـتان ګوندونـه ډېـره لږه ونـډه لري.

همـدا اوس پـه افغانسـتان کـې عامـه ذهنیـت د ګوندونـو او ګونـدي سیاسـت پـر خـلاف دی او لـه دې څخـه ښـکاري چـې ګوندونـو خپلـه دنـده پـه سـمه توګه نـه ده تـر سره کـړې. لـږ تـر لـږه د خپل ځـان پـه اړه یـې هـم خپـل ذهنیـت نـه دی جـوړ کـړی. وروسـتۍ خـبره دا چـې دلتـه ډېـر لـږ ګوندونـه شـته چـې د ګوند پـه توګـه یـې حکومـت نقـد کـړی وي او یـا یـې ننګولـی وي چـې خپلـې ناسـمې پالیسـۍ شـاته کـړي. همـدا لاملونـه دي چـې نـه خپله ګوندونـه غوړېږي او نه هم د ولسـواکۍ پـه غوړېدلـو کـې هغسـې ونـډه اخیسـتلای شي چـې ګوندونـه یـې بایـد واخـلي.

**دوام لري...**

# فساد او پر حکومت نیوکې؛

## ولسمشر ته نږدې درې چارواکي د فساد په تور څارنوالۍ ته معرفي شول



د افغان حکومت په بېلا بېلو ادارو کې د فساد په اړه د راپورونو تر خپرېدو وروسته تازه په واشنګټن کې د افغان سفارت د دېوال جوړولو په پروژه کې د پراخ فساد راپورونه خپاره شوي دي. تازه د ملي شورا دواړو جرګو د ولسمشر د دوو خورا نږدې کسانو په ګډون څلور تنه لویې څارنوالۍ ته معرفي کړي، څو په واشنګټن کې د شوي فساد په اړه وضاحت ورکړي. دا کسان په بهر کې دي، خو مشرانو جرګه وايي چې قضیه یې باید وڅېړل شي.

څو ورځې وړاندې پژواک خبري اژانس یو راپور خپور کړ چې په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت یو دېوال ویجاړ شوی چې په جوړولو یې ۱،۸ میلیونه ډالر لګول شوي دي. آژانس ادعا کړې وه چې په دې پروژه کې پراخ فساد موجود دی او باید حکومت یې په هر اړخیزه توګه وڅېړي. تازه د مشرانو جرګې د نړیوالو کمېټې مشرتابه د یادې قضیې په تړاو په امریکا کې د افغانستان سفیره رویا رحماني، د ولسمشر د یوه سلاکار او د مالیې د پخواني سرپرست وزیر همایون قیومي او شاد محمد څرګند په ګډون څلور کسه لویې څارنوالۍ ته ور معرفي کړي دي.

د مشرانو جرګې غړی حسیب الله کلیمزی وايي چې د حکومت په ټولو برخو کې پراخ فساد نور د شرم وړ دی او باید پر وړاندې یې اقدام وشي. د ده په خبره، په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت د دېوال جوړولو په پروژه شوی فساد ستر جنایت دی چې باید لویه څارنوالي یې په هر اړخیزه توګه وڅېړي. د ده په خبره: ((یوازې دا قضیه نه ده، حکومت په پراخ فساد کې ښکېل دی، دا څه حال دی، په هر څه کې فساد نور شرم دی، نور باید مشرانو جرګه په دې اړه پټه خوله نه شي، نور باید د حکومت پر وړاندې اقدام وکړو او هر فرمان یې ورسره ونه منو)).

پر همایون قیومي او شاد محمد څرګند تور دی چې دوی په واشنګټن کې د دېوال جوړولو په پروژه کې سلګونه زره ډالر حیف میل کړي دي. کلیمزي په پرونۍ غونډه کې د خبرو پر مهال وویل: ((د مالیې وزارت پخواني سرپرست او په بنسټیزو چارو کې د ولسمشر سلاکار همایون قیومي، د ولسمشر بل سلاکار شاد محمد څرګند، د قیومي سکرتر او د څرګند زوم پراخ فساد کړی دی. کمېسیون پرېکړه کړې چې یاد څلور چارواکي لویې څارنوالۍ ته ور وپېژني)).


د مشرانو جرګې مشر هم په دې غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي چې د بېوزلو افغانانو له مالیاتو او نړیوالو مرستو د بېلو پروژو په نامه د پیسو غلا کول او فساد ستره جفا ده او په وینا یې، دغه ډول قضیې باید په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي. نوموړي پر لویې څارنوالۍ هم غږ کړی چې مسئله دې په پوره بې طرفۍ او هر اړخیزه توګه وڅېړي.

د نړیوالو اړیکو د کمېټې مشر ښاغلی کلیمزی دا هم وايي چې د ولسمشر ځینې سلاکاران دلته د پیسو د غلا کولو او ټولولو لپاره راغلي وو. د ده په خبره، په فساد کې ښکېل ډېری کسان په تېره د سفارت د دېوال په قضیه کې ښکېل مفسدین په بهر کې دي، چې څوک یې نه شي پیدا کولی. د ده په خبره: ((د ولسمشر ځینې سلاکاران دلته د پیسو ټولولو ته راغلي وو، دوی فساد وکړ، اوس په امریکا کې دي، چې نه یې ولسمشر پیدا کولی شي او نه یې موږ پیدا کولی شو)).

کلیمزي وايي چې د افغانستان په تاریخ کې دومره په فساد کې ښکېل نظام نه و تېر شوی. د ده په خبره: ((د افغانستان په تاریخ کې هېڅ داسې فاسد نظام نه دی تېر شوی. په هر څه کې فساد، په ډوډۍ کې، په ساختماني مسایلو او نورو مواردو کې فساد، دا څه حال دی، ددې وطن پر حال زړه وسوځوئ)).

په دې وروستیو کې پر افغان حکومت د فساد تورونه خورا ډېر دي. نړیوالې ټولنې، اروپايي ټولنې، د افغانستان پر شفافیت د څار بنسټ هم پر افغان حکومت غږ کړی چې د فساد مخه ونیسي او د ختمولو لپاره یې دې عملي تګلاره جوړه کړي.

## عباس عراقچي: امریکا د افغان حکومت په غیاب کې له طالبانو سره معامله کړې



د ایران د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال په یوه مرکه کې ویلي چې امریکا د افغان حکومت په غیاب کې له طالبانو سره معامله کړې ده.

نوموړي دغه راز په ایران کې د طالبانو د دفتر لرل هم رد کړي او زیاته کړې یې ده چې ښايي د مشهد شورا طالبانو ځان ته خپله جوړه کړې وي، خو د دوی لپاره ډېره مهمه نه ده. عراقچي د خپلو خبرو پر دوام له طالبانو سره د ایران اړیکو ته په اشارې ویلي، د نورو ډلو په څېر له طالبانو سره هم د نظر ورکولو او اورېدلو په کچه اړیکې لري. نوموړي د دې پوښتنې په ځواب کې چې ملا اختر منصور په ۲۰۱۶ میلادي کال کې په ایران کې څه کول، ویلي چې دی په دې اړه معلومات نه لري.

د نوموړي په خبره، تهران د افغان سولې بهیر مخالف نه دی، خو زیاتوي هغه څه چې امریکا له طالبانو سره پیل کړي له دغې ډلې سره معامله ده. عباس عراقچي دغه راز ویلي چې په سیمه کې د امریکا حضور خطرناک او د زیاتو اختلافونو د رامنځته کولو لامل شوی دی.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال پر دې باور دی چې د افغان سولې بهیر باید په بین الافغاني خبرو سره مخته ولاړ شي. عباس عراقچي ویلي چې بېلابېلو لاملونو ایران د امریکا او طالبانو د سولې له پروګرامه نهیلی کړی دی. د ایران د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال زیاته کړې: «موږ باوري یو چې پر امریکا باید اعتماد ونه شي او باوري یو چې په سیمه کې د امریکا حضور خطرناک دی او د ډېرو اختلافونو لامل به شي.»

عراقچي دغه راز منلې چې ایران له طالبانو سره په تماس کې دی؛ خو نوموړی ټینګار کوي چې هېواد یې له دې ډلې سره منظمې اړیکې نه لري.

بلخوا نوموړی د هغو رپوټونو په غبرګون کې چې په وروستیو څو کلونو کې د سوریې په جګړه کې په ایران کې د مېشتو افغان کډوالو د حضور په تړاو خپاره شوي دي، د دغو جنګیالیو کړنې ستايي.

## لاریونوال: افغان حکومت د ایران او پاکستان په خوښه پر ګمبیري دښته هوايي ډګر جوړوي





په ننګرهار او بغلان ولایتونو کې لسګونو کسانو د ننګرهار ولایت پر ګمبیري دښته د یوه سیمه ییز هوايي ډګر جوړېدو په غبرګون کې لاریون کړی دی.

لاریونوال وايي، د ګمبیرۍ دښته د سردار محمد داوود خان د ماسټر پلان له مخې زراعتي ځمکه وه او د دې ځمکې لپاره د کونړ پر سیند باید بند جوړ شي، چې د دې هدف د پوره کولو په موخه جاپاني الاصله افغان ناکامورا د پاکستان لخوا ووژل شو، څو دلته بند جوړ نه شي او د کونړ د سیند اوبه پاکستان ته رواني وي.

اوس چې افغان حکومت د ماسټر پلان پرخلاف پر دې دښته هوايي ډګر جوړوي، دا په دې مانا ده چې افغان حکومت دا کار د ایران او پاکستان په خوښه کوي. دوی زیاته کړې، دوی پر ګمبیري دښته د هوايي ډګر جوړېدو ته اجازه نه ورکوي او په وینا یې، که حکومت له خپلې پرېکړې په شا نه شي، نو په ټول هېواد کې به پراخ لاریونونه تنظیم کړي.

لاریونوالو ویل چې په ګمبیري دښته کې د داوود خان د پلان له مخې باید د کونړ پر سیند د جوړېدونکي بند له اوبو ګټه واخیستل شي او دښته ودانه شي، خو د دوی په خبره، حکومت د یادې موضوع د مخنیوي لپاره په دغه دښته کې د هوايي ډګر د جوړېدو د بنسټ ډېره کېښوده.

د امید ستانکزي په نوم یوه لاریونوال ویلي: «پر ګمبیري دښته د داوود خان د ماسټر پلان له مخې باید پر کونړ سیند بند جوړ شي او ګمبیري دښته اباده شي، چې دغه برخه کې جاپاني الاصله افغان ډاکټر ناکامورا هم خپل ژوند قرباني کړ.

هغه زیاته کړې، دوی په ګمبیري کې د هوايي ډګر له جوړېدو سره مخالف دي او دغه راز له حکومت غواړي چې له پاکستان څخه پر کونړ د بریدونو او ډیورنډ کرښې سره د تحرکاتو پوښتنه وکړي. یادو لاریون کوونکو د یو پرېکړه لیک پر بنسټ حکومت ته ګواښ وکړ چې که پر کونړ د بریدونو مخه ونه نیول شي، د ډیورنډ پر کرښه د تحرکاتو مخنیوی ونه شي او ګمبیري دښته کې د هوايي ډګر د پروژې مخه ونه نیسي، نو دوی به د اختر په پنځمه ورځ په ټول هیواد کې پراخ لاریونونه پیل کړي.

# د جرمني، فرانسې او ایټالیا خبرداری؛

## پر هغو هېوادونو به بندیزونه ولګول شي چې پر لیبیا د وسلو د بندیز له اعلانه سرغړونه کوي





جرمني، فرانسې او ایټالیا خبردارای ورکړی چې پر هغو هېوادونو به بندیزونه ولګوي چې پر لیبیا د ملګرو ملتونو د وسلو د بندیز له اعلانه سرغړونه کوي.

د دغو درېو هېوادونو مشرانو په یوه ګډ بیان کې پرته له دې چې د یوه هېواد یا سازمان نوم واخلي، ویلي چې پر هغو اړخونو چې پر لیبیا د وسلو له بندیزونو سرغړونه کوي، د بندیزونو طرحه برابره کړې ده.

د راپورونو له مخې، دا ګډه اعلامیه په بروکسل کې د فرانسې، جرمني او ایټالیا د مشرانو په کتنه کې برابره شوې ده. په بیان کې په لیبیا کې له ټولو سیاسي اړخونو او د هغوی له نړیوالو ملاتړ کوونکو غوښتنه شوې چې په لیبیا کې پوځي فعالیت بند کړي او د وسلو د خپرېدو مخنیوی وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په لیبیا کې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د معمر القذافي تر وژل کېدو وروسته کورنۍ جګړه پیل شوه او لا هم روانه ده.

قطر، ایټالیا او ترکیه په لیبیا کې د هغه حکومت ملاتړ کوي چې د ملګرو ملتونو سازمان په رسمیت پېژندلی دی. د فرانسې حکومت په مکرر ډول پر ترکیه تور پورې کړی چې پر لیبیا د ملګرو ملتونو د وسلو بندیز یې مات کړی دی.

د نړۍ ځینې نور هېوادونه لکه مصر او روسیه په لیبیا کې د حکومت د وسله‌والو مخالفانو چې قوماندان حفتر یې مشر دی، ملاتړ کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا پوځ هم ویلي، چې ترکیې له سوریې څخه درې زره او ۵۰۰ وسله‌وال لیبیا ته استولي دي.


د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د راپور پر اساس، په دې اړه‌یې د امریکا دفاع وزارت راپور لیدلی دی. د پنټاګون د راپور پر بنسټ، دا وسله‌وال د روان میلادي کال په لومړیو درې میاشتو کې لیبیا ته استول شوي، څو هلته د خلیفه حفتر په مشرۍ د ځواکونو په وړاندې د حکومتي ځواکونو سره مرسته وکړي. په لیبیا کې په ۲۰۱۱ ز کال کې له پراخ پاڅون او په پایله کې یې د پخواني دیکتاتور معمر قذافي د رژیم له نړېدو وروسته دا هېواد د کورنۍ جګړې شاهد دی چې په سلګونو زره کسان پکې ووژل شول او په میلیونونو نور کډوال دي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ
### اوولسم څپرکی




**۱۷. هغه تجارت چې مېرمنې پرمختګ پکې کوي**

**لیکواله: کېم کیوساکي**

زما د مېرمنې (کېم) په اړه څو څله وغږېدم. زموږ د پېژندنې په اړه مو ولوستل. زموږ لومړنۍ ستړیاوې، مبارزې، موخې او تګلارې مو ولیدې او پر دې هم پوه شوئ چې موږ ځنګه تغییر وکړ. د کتاب د دې برخې تر پوره کېدو مخکې مې دا ښه موقع و ګڼله چې مستقیماً د کېم خبرې واورئ. رابرټ کیوساکي

((دلته چې رابرټ یا د هغه مېرمن د ښځو د کار په اړه کومې خبرې کوي، هغه زموږ د ټولنې لپاره نه دي. یوازې په لوېدیځه ټولنه کې د پلي کولو وړ دي. د ده مېرمن کېم وایي:[که ښځې زړې شي یا یې اولادونه پرېږدي، نو څه به خوري او څښي؟] زموږ په ټولنه کې دا هېڅ شونې نه ده. دلته تر هر چا د مور ډېر خیال ساتل کېږي او عزت یې کېږي. دلته موږ یوازې د دې څپرکي لنډیز را اخلو چې د دوی له حاله خبر شو او تر یوه ځایه د ژباړې حق هم ادا کړو: ژباړن))

کېم وایي:((رابرټ تاسو ته د شبکه یي بازارموندنې په اړه معلومات درکړل، ښایي له بېلابېلو اړخونو څخه درته ارزښتناک وي. زه یې پر یو بل اړخ خبرې کوم، او هغه دا چې «شبکه یي بازارموندنه د مېرمنو لپاره غوره تجارت دی.»

د ښځو لپاره د خپلو پیسو درلودل اړین دي. څو کاله وړاندې یوه ځوانه خبریاله راته راغله. ویل یې چې ښځې باید خپلې پیسې په خپل واک کې ولري. اصلاً خبره داسې وه چې د دې ۵۴ کلنه مور تر طلاق وروسته د ژوند کولو لپاره د دې کره ورغلې وه. کومې میاشتنۍ پیسې یې چې ترلاسه کولې، نه یې بس کېدې. او که بس کېدې یې، نو سپما یې نشوی ترې کولای. که کومه ورځ دا بېکاره شوې وای، نو دې او مور به یې د خوړلو لپاره څه نه درلودل.)) کېم زیاتوي:((شکر! زه او رابرټ د دې ښځې په حالت کې نه یو. که له اقتصادي اړخه هر څومره لوړې ژورې راشي، موږ د خپل پاتې ژوند غم خوړلی دی. هرڅوک ښېل ژوند لري. موږ نور زموږ د میندو په څېر ژوند نه کوو.))

**د ښځو د شتمنېدو لاملونه**

دا چې ولې باید ښځې شتمنې شي، کېم یو څو لاملونه بیانوي:

**شمېرنه او احصاییه**

دا په امریکا کې د ښځو او شتمنۍ په اړه شمېرنه ده. نور هېوادونه یا امریکا ته ورته دي، یا بیخي لږ توپیر ورسره لري:

- ۴۷ سلنه ښځې تر پنځوس کلنۍ وروسته یوازې وي، یانې له مالي اړخه باید ځان خپله سمبال کړي.
- د ښځو د تقاعد پیسې تر نارینه وو کمې دي. ځکه نارینه دکور نفقه برابروونکي بلل کېږي.
- ښځې تر نارینه وو ۷-۱۰ کالو پورې زیات ژوند لري. د پاتې ژوند لپاره اضافي پیسو ته اړتیا ده.
- په ډېر عمر لرونکو نېستمنو کې، په هرو څلور کې درې یې ښځې وي.
- په هرو لسو ښځو کې اوو هغو یې د ژوند په اوږدو کې بېوزلي ګاللې ده.

**د ترلاس لاندې‌توب څخه ډډه**

ښځې د طلاق په موخه نه، بلکې د ګډ ژوند په موخه واده کوي. دنده کوي؛ خو دا فکر یې نه وي چې یو ورځ به مې له کاره لرې کړي. په ژوند کې یې یوه ورځ داسې راشي چې خاوند یې طلاقه کړي او مشر یې له کاره ایسته کړي.

ښځې ډېر وخت خپل ژوند په خاوند، پلار، رییس یا مشر پورې تړي او د هغه تر لاس لاندې ژوند کوي؛ خو کله چې زړه شي، په دغو ټولو کې یو هم نه وي، نو یوازې پاتې شي.

**ناټاکلې ګټه**


ښځو ته کاري فرصتونه نه دي برابر. که په کوم ځای کې دنده هم پیدا کړي، نو تنخوا کمه اخلي. خو په شبکه یي بازارموندنه کې داسې نه ده. په شبکه یي بازارموندنه کې هرڅوک کار کولای شي او د خپل کار په اندازه ګټه کوي.

**د نفس د عزت لوړوالی**

ښځو ته په کار کولو کې چندان عزت او درنښت نه ورکول کېږي. خو په شبکه یي بازارموندنه کې دا د یوې ازادې کارګرې په توګه کار کوي، ځان ته ګټه او عزت ترلاسه کوي. د عزت له ترلاسه کولو سره یې د بریا چانسونه هم خورا زیاتېږي. **دوام لري...**

# بغلان

حشمت الله نوري



بغلان د هېواد په شمال- ختیځ کې له مهمو صنعتي ولایتونو څخه دویمه درجه ولایت دی .دغه ولایت دجغرافیوي موقعیت له مخې، د شمالي عرض البلد په ۲۹ درجو او ۳۱ دقیقو او همدارنګه د شمالي طول البلد په ۵۸ درجو او ٤٨ دقیقو کې واقع دی .

یاد شوی ولایت د کابل په ۲۳۰ کیلومترۍ کې دکابل –مزارشریف لویې لارې په اوږدو کې پروت دی. یوه غوره ځانګړتیا یې دا ده، چې د کابل او شمال- ختیځو ولایتونو لپاره زیات مهم دی او اوه شمالي ولایتونه له مرکز (کابل) سره نښلوي .

بغلان ولایت له شمال- ختیځ خوا پنجشیر، تخار او کندوز سره ، په لوېدیځ کې له سمنګان او بامیانو ولایتونو سره او د سوېل له خوا له پروان ولایت سره ګډه پوله لري. شمالي سالنګ د بغلان او سوېلي سالنګ په پروان ولایت کې موقعیت لري، چې دواړه ولایتونه یې سره ښېل کړي دي .

د دغه ولایت مساحت ۱۸۲۵۲ کیلومتره مربع اټکل شوی او د وګړو شمېرېې د ۱۳۸۷ لمریز کال د شوې سرشمېرنې پر بنسټ، ۹۰۰ زره تنه اټکل شوی .

بغلان ولایت ښه اقلیم لري، په اوړي کې یې هوا ګرمه، خو په ژمي او منې کې یخه وي. په ژمي کې د دغه ولایت د حرارت درجه له ۲۲ تر ۳۲ رسېږي. خنجان یې تر ټولو یخه ولسوالي ده او په اوړي کې یې د حرارت درجه ۱۸ سانتي ګرېډ وي. د باران منځنۍ کچه په کې ۲۶۹۸ ملي متره اټکل شوې ده .

بغلان ولایت د خپل اداري جوړښت له مخې، ١٤ ولسوالۍ لري او مرکز یې د پلخمري ښار دی .د دغه ولایت ولسوالۍ له خنجان، دوشي، بنو، ده صلاح، پل حصار، جلګه، خوست، فرنګ، ګذرګاه نور، نهرین، بورکه، دهنه غوري او تاله وبرفک څخه عبارت دي.

په یادو ولسوالیو کې بېلابېل قومونه لکه تاجک، پښتانه، هزاره، ازبک، ګجر، قزاق، مغل او پشه‌یان ژوند کوي، خو ډېرۍ برخه یې تاجکانو جوړه کړې ده . بغلان ولایت دوه ستر بندونه لري چې دواړه په پلخمري ښار کې دي او د اول او دویم بند په نامه یادېږي .

لومړی بند ۳ توربینه لري چې هر یو یې یو نیم میګاواټ برېښنا تولیدوي او د اوبو زېرمتون یې د دوو میلیونو مترمکعب اوبو ظرفیت لري

دویم بند د اول بند په پای کې موقعیت لري، چې د لومړي بند له اوبو څخه کار اخلي. دویم بند ۳ توربینه لري، خو هر یو توربین یې ۳ میګاواټه برېښنا تولیدوي .

خو سره له دې چې دغه بندونه د بغلان د خلکو د اړتیا وړ برېښنا تولیدوي، په زرګونو جریبه ځمکه یې هم خړوبه کړې ده . په بغلان ولایت کې فرهنګي فعالیتونه په ۱۳۰۰ لمریز کال کې د کندوز ولایت له خان آباد ښار څخه پیل شول. خان آباد هغه مهال د بغلان یوه ولسوالي وه، چې د لومړي ځل لپاره ترې د اتحاد په نامه پنځلس ورځنۍ خپرونه خپره شوه.

دغې خپرونې د اطلاعات او فرهنګ په چوکاټ کې خپرونې کولې، چې مرکز یې په ۱۳۳٦ لمریز کال کې د بغلان د مرکز نوي ښار ته ولېږدول شو او په اونیزه بدله شوه. تر ۱۳٦۷ لمریز کال پورې په مرکزي بغلان کې فعاله وه او له دې کال وروسته بیا پلخمري ښار ته ولېږدېده .

په دې وروستیو کې د اتحاد له خپرونې پرته، د عقاب په نامه میاشتنۍ، دندای اسلام اونیزه، سلسله اونیزه او غچي اونیزه هم فعالیت کوي .

فرهنګي ټولنې هم له کلونو راهیسې په دغه ولایت کې فعالې دي، چې د بېلګې په توګه ترې د بغلان د لیکوالې ټولنې، ادیب فرهنګي مرکز او د حکیم ناصرخسرو بلخي له فرهنګي مرکز څخه یادونه کولای شو. د دې تر څنګ، په بغلان ولایت کې ښه لیکوال هم شته چې اثار یې خپاره شوي دي .

د دغه ولایت تاریخي ابدات په ۲٦ ځایونو کې دي، چې ترې د تپه زارو، تپه صفاري، شور تپه شمرق، تپه رستم، شورېابا، طلاتپه، زردکمر، مسجدسفید، لالاقدق، قندرایونه او سرخ کتل یادونه کولای شو. یاد تاریخي اثار له پلخمري ښار پرته په خوست، دوشي، مرکزي بغلان او دهنه غوري ولسوالیو کې موقعیت لري .

له رباتک او سرخ کوتل ساحو څخه لاسته راغلي اثار داسې ښکاري، چې د کنشکاکبیر او کوچنیو کوشانیانو دور ته رسېږي.

دغه اثار څرګندوي چې بغلان له اسلام نه وړاندې دوه زره کلن تاریخ لري، چې هغه مهال کوتل رباتک او سرخ کوتل د اورنمانځو عبادت ځایونه وو .

په دغه ولایت کې ډېر پیاوړي عالمان، لیکوال او نور خلک روزل شوي، چې کولای شو له عبدالرحیم خنجاني، اکرام الدین اندیشمند، مزمل، میر احمد جوینده، غلام جیلاني پروانه ښوال رونق، نادري، نسیم صباح، غلام حسین افګار، عبدالقیوم حازن، شفق مشفق او وشیرآقا شایان فریور او نورو یادونه وکړو، چې اثار یې خلکو ته رسېدلي او په بغلان کې خپل مینه وال لري.

په دغه ولایت کې لاهم موزیم نشته او تر لاسه شوي اثار او ابدات یې ٢٤ قطعو ته رسېږي، چې په کابل کې اطلاعات او فرهنګ وزارت ته سپارل شوي دي .

په بغلان کې ولایت کې د ملي اراډیو- ټلوېزیون امریت په لومړي ځل په ۱۳٦۷ لمریز کال کې رامنځته شو، چې ټولې خپرونې یې له کابل نه اخیستې او خپلې خپرونې یې ایله دوه ساعته وې، چې ډېری سیمه ییز راپورونه، محفلونه او دولتي غونډې وې .

د طالبانو د حکومت له پرځېدو وروسته په دغه ولایت کې فرهنګي فعالیتونه زیات شول او اوسمهال د ملي ټلوېزیون تر څنګ پکې نور خصوصي ټلوېزیونونه او راډیوګانې هم نشرات لري.

اوسمهال په بغلان ولایت کې ټولټال ٤٩٠ ښوونځي شته، چې ۱۲۲ یې د هلکانو لېسې او ۳۵ نورې یې د نجونو دي او د زده کوونکو شمېر یې ۳۲۰ زرو ته رسېږي، چې یوازې ۱۲۰ زره یې نجونې دي او زر ښوونکي درس ورکوي .

په دې ولایت کې له پوهنتون پرته د ښوونکو روزنې درې موسسې هم شته چې یوه یې دولتي او دوه خصوصي دي. په همدې ډول یو دارالعلوم او ۱۲ ښوونځي هم لري.

بغلان د هېواد یو تر ټولو مهم صنعتي ولایت دی، چې د غوري سیمنټو، افغان نساجی، بورې او ډبرو سکارو فابریکې په کې شته .

همدارنګه د پایه جوړونې، سیلو، سپین زر شرکت، کاماز تصدۍ او کرنیزه مکانیزه د دغه ولایت له مهمو تولیدي تاسیساتو څخه دي، چې په وروستیو دېرش کلنو جګړو او د دولت د نه پاملرنې له امله له منځه ولاړل؛ خو د افغان نساجي او سیمنټو فابریکې لا هم فعالیت لري .

د افغان پلخمري نساجۍ فابریکه په پلخمري کې موقعیت لري، چې په ۱۳۱۵ لمریز کال کې تاسیس شوې او په ۱۳۲۱ لمریز کال کې یې خپل فعالیت پیل کړی . دې فابریکې د کار په پیل کې له ۳۵۰۰ څخه تر ۳۷۰۰ پورې کارګر درلودل، د کار په پیل کې یې د اوبدنې ۵۵۰ انګلیسې ماشینونه او په ۱۳۳۱ لمریز کال کې یې د ماشینونو شمېره ۳۰۳ المانیو او په ۱۳٤۰ کال کې دغه شمېره ۱۸٤ روسیو ماشینونو ته راښکته شوه، چې په دې حساب سره یې د اوبدنې د ماشینونو شمېر له زرو څخه زیات و .

افغان پلخمري نساجي فابریکې کال په کال پراختیا کوله او په ۱۳٤۲ لمریز کال کې یې تولید ۲۱ میلیون متره سان تیکې ته رسېده.

د غوري سیمنټو فابریکه هم په دغه ولایت کې ده، چې د لومړي پړاو تړون یې د افغانستان او چک سلواکیا ترمنځ و، چې د ۱۳٤۰ لمریز کال د وري په ۲۷مه لاسلیک شو. په دغه پړاو کې یې د ٢٤ ساعتونو تولیدي ظرفیت ۲۰۰ ټنه سیمنټ و او په دویم پړاو کې یې دویمه کره فعاله شوه او تولیدي ظرفیت یې هم ورسره دوه چند شو .

د سیمنټو دویمه فابریکه په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د زر ټنو ورځني ظرفیت او ۷۰۰ کارکوونکو په درلودو سره پیل شو. اوسمهال دغه فابریکه ۷۵۰ تنه کارګر لري، چې د زړې فابریکې تولید ۲۰۰ او د نوې فابریکې تولید ۸۰۰ ټنه دی، چې ټول په هېواد کې دننه مصرفېږي .

په بغلان کې د ډبرو سکارو اوه کانونه شته، چې د کرکر، دودکش، اهن دره ( پلخمري ښار) د تاله برفک دوه کانونه، د ده صلاح ولسوالۍ کان او د نهرین چنارک کان پکې شامل دي .

د بغلان د بورې فابریکې په ۱۳۱۹ لمریز کال کې د بغلان د صنعتي فابریکو په ښارګوټي کې په فعالیت پیل کړی. دغې فابریکې د کال په اوږدو کې د لبلبو د حاصلاتو پر مهال له دریو تر څلورو میاشتو فعالیت کاوه او په ٢٤ ساعتونو کې یې له ۱۱۱۰۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ پورې ۹۰ کیلویي بورۍ تولید درلود.

یاده فابریکه د غویي د اومې کودتا او د ۱۳۷۰مې لسیزې په جګړو کې په ټپه ودرېده، خو په ۱۳۸۷ لمریز کال د المان په مرسته یو ځل بیا فعاله شوه، خو دا ځل یې په هر کال کې له یوې میاشتې د زیات فعالیت وړتیا نه درلوده او ورځنی تولید یې له ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ بوریو پورې و، چې هره بورۍ ۹۰ کیلو وه .

بغلان ولایت د یوه کرنیز ولایت په توګه له ۹۸۱۰۱ هکټاره اوبیزې ځمکې څخه جوړ شوی، چې ۱٦۰۵۵۳ هکټاره ځمکه یې للمي ده. وریجې د دې ولایت له مهمو او مشهورو کرنیزو محصولاتو څخه دي. بغلانۍ وریجې ښېل خوند لري او دټول هېواد په کچه مشهورې دي.

له دې پرته کچالو، پیاز، جوار او نخود د دې ولایت په نورو کرنیزو حاصلاتو کې راځي .همدرانګه په مرکزي بغلان، دهنه غوري او دوشي ولسوالیو کې خربوزې او هندوانې کرل کېږي. منې، ناک، الو، ګیلاس او زردالو یې هم مشهور دي .

د دې ولایت کرنیز محصولات له بغلان پرته په کابل، بلخ او نورو ولایتونو کې پلورل کېږي .ورزش له ډېر پخوا نه په دغه ولایت کې دود و او بغلاني ځوانان له چپنکي پهلوانۍ، وزلوبې او ډبرې اچونې سره مینه لري . یاد ورزشونه تر اوسه په دې ولایت کې دود دي . خو د دې تر څنګ معاصر ورزشونه لکه فوټبال، والیبال، تیکواندو او نور هم پهکې فعال او ۵۵ ورزشي کلپونه لري، چې نږدې زر ځوانان په بېلابېلاو وختونو کې په کې لوبېږي.

همیانی

# بريالی مدير او دېرش کارونه

ژباړه: عطامحمد مياخېل

يو بريالی مدير د هغو ځانګړتياوو ټولګه لري، چې د دې سبب ګرځي څو د بريا په لاره کې ښې کړنې تر سره کړي او له خپلو فعاليتونو څخه مطلوبه پايله واخلي. په دې ليکنه کې د يوه بريالي مدير په دېرش ځانګړتياوو باندې رڼا اچوو .

**١ ــ هره ورځ يو نوی څيز وازمايئ**
هره ورځ هڅه وکړئ چې يو نوی کار تر سره کړئ، حتا که تر سره کول يې سخت هم وي او يا مو نه خوښيږي، چې تر سره يې کړي.

**٢ ــ د خپل ځان لپاره يوه بده ورځ مه جوړوئ**
د يوه شرکت مديريت کول سخت کار دی او هره ورځ له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږي. مه پرېږدئ چې ستونزې ستاسو لپاره يوه بده ورځ جوړه کړي.

**٣ــ له ورځنيو پېښو څخه خبر واوسئ**
خبرونه وڅارئ، څو له ورځنيو پېښو څخه خبر شئ.

**٤ــ بېلابېلو مراسمو ته چې وبلل شوئ، لاړ شئ.**
په بېلابېلو ناستو او مراسمو کې ګډون کول، د دې سبب ګرځي چې له بېلابېلو افرادو سره آشنا شی او دا افراد ښايي په راتلونکي کې له تاسو سره مرسته وکړي.

**٥ ــ تل د نويو تګلارو د ازمويلو په حال کې واوسئ**
تل هڅه وکړئ چې د خپلو کارونو د تر سره کولو لپاره نوې لارې پيدا کړئ.

**٦ــ فکري او خلاقانه لوبې تر سره کړئ**
که د کوم کار د تر سره کولو لپاره مناسبه آيډيا نه لرئ، لوبې وکړئ. فکري لوبې او هغه لوبې چې په هغو کې بايد کوم څه جوړ کړئ، له تاسو سره مرسته کوي، له رنګونو سره لوبه يوه ښه تګلاره ده.

**٧ ــ مديرانو او يا د سازمان مهمو غړو ته د برېښناليک له لېږلو څخه مه وېرېږئ**
بايد وکولای شئ چې له خپلو مديرانو سره په اړيکه کې واوسئ او د ستونزو په اړه ورته ووايئ. په دې کار سره به هغوی له تاسو سره مرسته وکړي.

**٨ ــ د خپلو کارونو مهالوېش ته دقت وکړئ**
تل هڅه وکړئ چې په ټاکل شوي وخت، خپلو دندو ته رسېدګي وکړئ. دا کار د دې سبب ګرځي چې کارمندان مو هم له تاسو څخه پيروي وکړي.



**٩ ــ هغه کار چې خپله نه غواړې تر سره يې کړې، نورو ته يې مه سپارئ**
کاري چاپېريال په بېلابېلو شرايطو کې ډېر ستړی کوونکی کېږي او ښايي کوم کار تر سره نه کړئ، دا نورو ته مه سپارئ او هڅه وکړئ چې تل په شرکت باندې مثبت شرايط حاکم وي.

**١٠ ــ په يوټيوب کې د بېلابېلو شرکتونو د برياليو مديرانو ويډيوګانې وګورئ**
په يوټيوب او نورو سايټونو کې د برياليو مديرانو او افرادو ويناوو ته غوږ نيول، د دې سبب ګرځي چې نوي څيزونه زده کړئ.

**١١ ــ مېډيټېشن وکړئ**
په ورځ کې شل دقيقې مېډيټېشن وکړئ، څو آرامه ذهن ولرئ.

**١٢ ــ په خپل کار پورې اړوند غږيزو کتابونو ته غوږ ونيسئ**
ښايي له يو ساعت موټر چلونې وروسته خپل کارځای ته ورسېږئ. په دې وخت کې هڅه وکړئ چې په خپل کار پورې اړوند غږيزو کتابونو ته غوږ ونيسئ.

**١٣ ــ هره ورځ په مثبت ليد سره پيل کړئ**
تل روحيه لرونکی واوسئ، ستاسو ښه روحيه په کارمندانو باندې هم اغېز ښيندونکې ده.

**١٤ ــ د خپل ټيم د ټولو غړو لپاره وخت په پام کې ونيسئ**
هڅه وکړئ چې د ټولو هغو افرادو خبرو ته چې په ټيم کې مو داخل دي، غوږ ونيسئ او ستونزې يې حل کړئ.

**١٥ ــ د موټر چلونې پر مهال له وخت څخه ښه ګټه واخلئ**
د موټر چلونې پر مهال کولای شئ نور کارونه تر سره کړئ. کله چې په ټرافيکي ګڼه ګوڼه کې بند پاتې ياست، کولای شئ له خپلو همکارانو سره خبرې وکړئ او له هغوی سره خپلې کاري ناستې همغږې کړئ.

**١٦ ــ کاري ناستو ته په بشپړو معلوماتو سره لاړ شئ**
مخکې تر دې چې کاري ناستې ته لاړ شئ، په اړه يې معلومات ولرئ، دا معلومات د يوه کاغذ پر مخ يادښت کړئ، څو له هغو څخه په ګټه اخيستنې سره ښه ناسته ولرئ.

**١٧ ــ د يوه بريالي مدير په توګه يوګا مه هېروئ**
د يوګا ورزش له تاسو سره ډېره زياته مرسته کوي، څو وکولای شی سخت کاري شرايط تر شا پرېږدئ.

**١٨ ــ له هغو کسانو سره کار وکړئ چې ستاسو مهارتونه بشپړوي**
د يوه بريالي مدير په توګه، بايد د بېلابېلو کارونو په تر سره کولو کې لوړ مهارت ولرئ. د دې کار لپاره غوره ده له هغو کسانو څخه ګټه واخلئ، چې ستاسو مهارتونه بشپړوي.

**١٩ ــ له ويده کېدو مخکې لږ پلی مزل وکړئ**
موسيقۍ ته له غوږ نيولو پرته، له ويده کېدو مخکې دېرش دقيقې پلي مزل د دې سبب ګرځي، چې له تشويش او اندېښنې لرې آرامه ذهن ولرئ.

**٢٠ ــ خيالبافي وکړئ**
ذهن مو آزاد پرېږدئ او د بېلابېلو مسايلو په اړه فکر وکړئ. خيالبافي وکړئ او هر څه ته په بل ليد سره وګورئ.

**٢١ ــ مناسبه تغذيه ولرئ**
يو سالم سبا ناری د دې سبب ګرځي چې بدن مو د ورځنيو کارونو د تر سره کولو لپاره کافي انرژي ولري.

**٢٢ ــ کاري مسايل کور ته مه وړئ**
کاري مسايل د کور له چاپېريال څخه لرې کړئ، څو وکولای شی آرامه شپې ولرئ.

**٢٣ ــ راتلونکې په داسې ښه تعريف کړئ، چې ټولو ته د منلو وړ وي.**
د راتلونکې په اړه د خبرو کولو پر مهال داسې چلند وکړئ، چې ټول وکولای شي راتلونکې ستاسو له ليد څخه وګوري.

**٢٤ ــ ورزش وکړئ**
هره ورځ ورزش کول مو روحيه ښه کوي او د دې سبب ګرځي، چې په ډېرې انرژۍ سره کار وکړئ.

**٢٥ ــ له ستونزو څخه مه تښتئ**
هڅه وکړئ چې په سختو شرايطو کې وېرې ته د خپل ځان په لور لاره ورنه کړئ، په دې شېبه کې بايد شرايط متوازن کړئ. له بېلابېلو افرادو سره خبرې کول او د هغوی له لارښوونو څخه ګټه اخيستنه، د دې سبب ګرځي چې وکولای شی شرايط په ښه توګه کنټرول کړئ.

**٢٦ ــ په کافي معلوماتو سره تصميم نيونه وکړئ**
مخکې تر دې چې تصميم ونيسئ، هڅه وکړئ چې کافي معلومات تر لاسه کړئ، د يوې موضوع په اړه د معلوماتو لرل، د دې سبب ګرځي چې سم تصميمونه ونيسئ.

**٢٧ ــ د خپلو ورځنيو مهمو کارونو لېست جوړ کړئ**
د خپلو ورځنيو دريو مهمو کارونو يو لېست جوړ کړئ او هڅه وکړئ چې پای ته يې ورسوئ.


**٢٨ ــ کارمندان مو پوښتنې کولو ته وهڅوئ**
داسې شرايط را منځته کړئ چې کارمندان مو وکولای شي د خپلې کاري راتلونکې په اړه پوښتنې وکړي.

**٢٩ ــ هره ورځ له يوه پېرېدونکي يا مخاطب سره خبرې وکړئ**
له پېرېدونکي سره خبرې کول د دې سبب ګرځي، چې وکولای شی بېلابېل فيډبکونه را ټول کړی او په هغو سره د خپل شرکت په بهير کې بدلونونه رامنځته کړی.

**٣٠ ــ هره ورځ خپل برېښناليکونه چک او هغو ته ځواب ورکړئ**
هڅه وکړئ چې برېښناليکونه مو مديريت کړئ. په بېلابېلو فولډرونو کې يې ځای پر ځای کړئ، څو د لومړيتوب په ترتيب سره ځواب ورکړی.

## ويلسن: افغان چارواکي دې ژر تر ژره نوی حکومت جوړ او بين الافغاني مذاکرات پيل کړي

په افغانستان کې د امريکا د سفارت سرپرست او شارژدافير راس ويلسن پر افغان چارواکو غږ کړی چې نوی حکومت دې ژر جوړ او د بين الافغاني مذاکرات دې پيل کړي.
نوموړي په خپله ټويټرپاڼه کې ليکلي: «موږ د دغه هېواد پر مشرانو ټينګار کوو چې نوی حکومت او د بيا پخلاينې عالي ملي شورا دې ژر جوړکړي، د بنديانو تبادله دې بشپړه کړي او بين الافغاني مذاکرات دې پيل کړي.»
دا په دې وروستيو کې لومړی ځل دی چې د امريکا شارژدافير د افغان حکومت له مشرانو څخه داسې ښکاره غوښتنې کوي. هغه زياته کړې چې د افغانانو حوصله ختمه شوې او بين الافغاني مذاکرات دې پيل شي چې په دايمي او هر اړخيز اوربند باندې بحثونه پيل شي.



په ورته وخت کې په حکومت کې به سرپرستي د ولسي جرګې د اوړي رخصتيو تر پايه دوام کوي. د ولسي جرګې غړي وايي چې د زمري يا اسد له مياشتې د دوی رخصتي پيلېږي او تر يوې نيمې مياشتې به دوام کوي. د دې جرګې اداري پلاوي وايي، د دوی له ټينګار سره سره، حکومت سرپرست وزيران د باور رايې اخيستلو لپاره ولسي جرګې ته نه دي معرفي کړي، نو ځکه به سرپرستي تر يوې نيمې مياشتې پورې دوام کوي. د ولسي جرګې لومړي مرستيال محمد ميرزا کټوازی وايي، د اوړي رخصتيو تر پای وروسته که حکومت کابينه بشپړه کړې وه، نو دوی به يې په اړه پرېکړه کوي.
دا په داسې حال کې ده چې د ولسمشر غني په مشرۍ د ملي يووالي حکومت پر مهال هم اکثريت کابينه سرپرسته وه او په دې دوره کې هم تر دې دمه وزيران د باور رايو د اخيستو لپاره ولسي جرګې ته نه دي معرفي شوي چې دې مسئلې ډېرې نيوکې پارولې دي.

### اقتصاد

**د اسعارو بيې**

| | |
|---|---|
| $ | ٧٧ |
| € | ٨٦,٢٠ |
| Rp. | ٤٥٧ |
| ₹ | ١٠٥٠ |
| ¥ | ١٠,٥٠ |
| £ | ٩٤,٥٠ |

**بېړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL
PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۰مه | ۵۷۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۸ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۶ | لمر ختل ۰٤:۵۵ | ماسپښين ۱۲:۰۱ | مازيګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:٤۵

## نړۍ



د جرمني، فرانسې او ایټالیا خبرداری؛

# پر هغو هېوادونو به بندیزونه ولګول شي چې پر لیبیا د وسلو د بندیز له اعلانه سرغړونه کوي

۳

## طالبان: حکومت مسؤل تأخیر آغاز روند گفت‌وگوهای میان افغانان و ادامهٔ جنگ در کشور است



در پی تأخیر چند ماههٔ آغاز روند گفت‌وگوهای میان افغانان و تکمیل نشدن روند رهایی زندانیان از سوی حکومت و طالبان، شهاب‌الدین دلاور، از اعضای برجستهٔ دفتر سیاسی طالبان در دوحه، حکومت افغانستان را مسؤل تأخیر در آغاز روند گفت‌وگوهای میان افغانان و ادامهٔ جنگ در کشور می‌داند. این عضو برجستهٔ طالبان که با شما دیگر از اعضای دفتر سیاسی طالبان در یک گفت‌وگوی از راه دور با شماری از چهره‌های سیاسی شرکت کرده بود، از کندی کار در آغاز روند گفت‌وگوهای صلح انتقاد کرد. او در این باره گفت: «تمام ضمه‌واری و رویدادهای خون‌بار چهار ماه گذشته به ادارهٔ کابل راجع است؛ بخاطری‌که در پانزدهم ماه مارچ باید پنج‌هزار زندانی ما را رها می‌کرد و ما آماده بودیم که یک‌هزار زندانی آنان را در ده روز رها کنیم.» یک عضو دیگر دفتر طالبان در قطر، در این گفت‌وگوی از راه دور تأکید کرد که روند رهایی زندانیان باید نهایی شود و گفت‌وگوها با یک هیئت همه‌شمول آغاز شود. شماری دیگر از اعضای دفتر طالبان، نیروهای امریکایی را متهم کردند که با انجام حمله‌های هوایی توافق‌نامهٔ صلح امریکا با این گروه را نقض کرده‌اند. در این گفت‌وگوی از راه دور، دربارهٔ چگونگی نظام پس از صلح، حقوق زنان، به‌ویژه حق تحصیل، کار و حضور در انتخابات - نیز بحث شد. اما، ریاست‌جمهوری، انگشت انتقاد را به‌سوی طالبان بلند می‌کند و می‌گوید که این گروه به تعهدات شان عمل نکرده‌است. صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور بیان داشت: «نه اسیران ما را رها کردند. میزان خشونت‌های طالبان را شما می‌بینید که به کدام حد رسید. ترور، قتل و حمله بالای افراد ملکی، کارمندان دولت، ملاهای ما و شفاخانه‌های ما همچنان ادامه دارد.»

## راپورونه: ترکي پولیسو لسګونه کسان د داعش ډلې د غړیتوب په تور نیولي دي




د ترکیې پولیسو په استانبول ښار کې لسګونه کسان د اسلامي دولت ډلې یا داعش سره د اړیکو او پر پولیسو د بریدونو په تور نیولي دي. د ترکیې دولتي خبري اژانس، اناتولیا په راپور کې ویل شوي چې دغه کسان د استانبول ښار په ۱۵ ولسوالیو کې د تروریزم ضد پولیسو په چاپو کې نیول شوي دي. په راپور کې ویل شوي چې دغو کسانو پر پولیسو د بریدونو پلان درلود، خو دا پکې نه دي ویل شوي چې بریدونه چېرته او څه وخت پلان شوي وو. داسې ګمان کېږي چې دغو کسانو غوښتل په ټولنیزو شبکو کې د هغو لیکنو په غبرګون کې بریدونه وکړي چې د اسلام پیغمبر، حضرت محمد (ص) ته پکې سپکاوی شوی و. پولیس وایي، په چاپو کې ګڼ شمېر اسناد او د کمپیوټر وسایل په لاس ورغلي دي. د اسلامي دولت یا داعش وسله والې ډلې تر دې وړاندې هم په تیرو پنځو کلونو کې د ترکیې په یو شمیر سیمو کې بریدونه کړي دي. تر ټولو خونړی برید یې د ۲۰۱۵ ز کال د اکتوبر په میاشت کې د سولې په لاریون کوونکو و چې ۱۰۲ کسان پکې وژل شوي وو. داعش ډله چې یو وخت یې په عراق او سوریه کې ګڼې سیمې په واک کې درلودې، اوس یې هغه زور نه دی پاتې، خو بیا هم په یو شمېر هېوادونو کې وخت ناوخته په امنیتي ځواکونو او عامه ځایونو کې د بریدونو د کولو ادعا کوي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۱۵ میلیونو ته رسېدلي دي

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس ویروس مثبتې پېښې نږدې ۱۵ میلیونو ته رسېدلي دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۶۰۷ زره او ۲۲۰ تنه مړه شوي او نږدې نهه میلیونه کسان ترې بېرته رغېدلي دي.
د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د قربانیانو او مثبتو پېښو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په یاد هېواد کې د کرونا مثبتې پېښې له ۳.۸۷ میلیونو اوښتي او ۱۴۳ زره او ۱۷۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
له امریکا وروسته برازیل د دوو میلیونو او ۷۶ زره او ۶۳۵ مثبتو پېښو او ۷۸ زره او ۸۷۱ مړو له اړخه د نړۍ دویم، هند د یو میلیون او ۱۱۸ زره او ۱۰۷ مثبتو پېښو او ۲۷ زره او ۵۰۳ مړو له کبله د نړۍ دریم، روسیه د ۷۷۱ زره او ۵۴۶ مثبتو پېښو او ۱۲ زره او ۳۴۲ مړو له اړخه څلورم او جنوبي افریقا د ۳۶۴ زره او ۳۲۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هېواد دی چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوی دی.


## ژوند

## ټوېټر په ایفون کې د غږیز ټویټ اسانتیا برابروي




ټوېټر غواړي له نوې ځانګړنې سره د ټویټ کولو بڼه هم بدله کړي. له همدې امله دې کمپنۍ اعلان وکړ چې د اوس لپاره یوازې په ایفونونو کې د غږیز ټویټ اسانتیا اضافه کوي چې په مرسته یې کاروونکي د لیکلي ټویټ ترڅنګ، غږیز ټویټ هم کولی شي. په دې اړه دې کمپنۍ په یو بلاګ کې لیکلي: «له نن څخه موږ د یوې داسې ځانګړنې ازمېښت پیل کړی چې په مرسته یې تاسې کولی شی په خپل غږ ټویټ وکړئ.» ټوېټر وایي چې کاروونکي له اوږدې مودې څخه کولی شي د ویډیو، تصویرونو او له اضافي تورو سره د زړه خواله وکړي، خو ځینې وختونه ۲۸۰ توري کافي نه وي. یو غږیز ټویټ به ۱۴۰ ثانیې وي او کله چې دغه وخت پوره شي، نو په اتومات ډول به بل غږیز ټویټ پیل شي. کله چې مو خپل غږ ثبت کړ، د Done تڼۍ کېکاږئ څو د غږ ثبتولو پروسه پای ته ورسېږي او خپل دغه غږ ټویټ کړئ.

## د طبابت په نړۍ کې حیرانوونکې پېښه



روسی ډاکټر Leonid Rogozov په ۱۹۶۱ کال کې د ځینو کشفي عملیاتو لپاره له خپلو ۱۲ ملګرو سره د انټرکټیکا لویې وچې ته د دولت لخوا لېږل شوی و، د همدې کال په مارچ کې د انټرکټیکا ژمی سخت شو، دوی په خپل مرکز کې را ایسار شول او له نورې نړۍ سره یې اړیکې پرې شوې، نه هلیکوپټر ورتلای شوای او نه نور خلک چې د دوی مرسته وکړي، دوی مجبور وو چې تر هغو چې واورین توپانونه او ګردلې ورکې شوې او هوا سمه شوې نه وي، د ژغورنې ټیم ته په تمه پاتې شي. په همدې وخت کې یوه شپه د ۲۷ کلن ډاکټر Leonid Rogozov, په نس درد شو، تبه یې شوه، دا چې په ټوله ډله کې دی یوازینی ډاکټر و، نو د خپل ځان په معاینه بوخت شو، پوه شو چې اپنډېکس دی، نو ده ته دوه لارې ورپاتې وې یا دا چې خپل ځان په خپله عملیات کړي او یا دا چې د دې دردونو له امله به مرګ ته تسلیمېږي. خپل مورال یې ونه بایله او خپله یې د خپل ځان په عملیاتو د یوې موضوعي بې هوښۍ په ترڅ کې پیل وکړ، ملګرو یې د عملیاتو د سامان‌الاتو په ورکولو کې مرسته کوله. دی وایي: له دې عملیاتو وروسته تر دوو اونیو پورې زه بېخي روغ شوم او کار ته مې ادامه ورکړه. دا سړی بیا په ۲۰۰۰ کال کې د ٦٦ کلنۍ په عمر په سن پیټرزبورګ کې مړ شو.



ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af
1515

عزیزي بانک
Azizi Bank